مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر معمار حشمت الله اتمر ۲۰۲۴/۰۱/۰۴

د پېښوریانو سرای معماري

لومړی برخه

پیلیزه:

دا سرای چې د سنګ تراشی واټ ته څېرمه پروت او ځینې برخې یې د سړک په پراخولو(لویلو کې) ویجاړ شوی دي، د ملا محمود جومات سره جوښت په دري پوړونو کې شتون لري چې عمر یې تر ۲۷۰ کالونونه ډېر دی.

ټول دېوالونه یې سنجي یانی د لرګیو ستنو او تکیه لرونکو لرګیو(بیرې) نه جوړ شوي، په منځ کې یې اومه (خامې) خښتې د کابل زاړه ښار په شان کارول شوي او بیا د دواړو خواوو نه اخېر شوي دي.

د لیدو نه داسې ښکاري چې پخوا د نورو کوڅو او ودانیو سره په یوې کرښې (سطحې، لیول) کې و، مګر اوس د نوي سړک په جوړېدو سره، ټیټ او بیا د ستونزو(مجبوریت) پر بنسټ انګړ (غولی) یې ډک شوی دی.

داسې ښکاری چې انګړ یې ۱۰۰ سانتی مترہ ډک شوی او لمړی پوړ چې پخوا د غولي سره برابر و، په پورتنۍ اندازې ټیټ پاتې دی.

د پېښوریانو سرای اوایی (هوایی) لید یا انځور (۱)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د پېښاوريانو سرای د يوې ځنډې مخامخ انځور (۲)

د پېښاوريانو سرای د يوې ځنډې مخامخ انځور (۳)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د پېښاوريانو سرای مخامخ دوېيم او دريېم پوړونو انځور (۴)

دا ودانۍ په اصل کې مېلمستون و او ببلابېلې کوټې يې درلودې.
په لمړي پوړ کې يې پوښل شوي اوږد دالان (ګالري) لرې چې سور (بر) يې ۲۲۰ سانتۍ (دوي متره اوشل سانتۍ) په لېد کې يې کولای شو د لرګيو ښکلي لينډۍ (کمانونه) و وينو چې د لينډۍ پنوالي (ضخامت) يې ۹ سانتي دي، چې د ۱۰ سانتيو تختو څخه توګل شوي او ډيزاين شوي دي.
په لمړۍ وخت کې خلکو(مېلمنو) کولای شو تر هرې لينډۍ (کمان) لاندې تېر او خپلې کوټې ته ننوځي، چې د يوې ستنې نه تر بلې ستنې پورې اندازه يې ۱۲۰ سانتۍ متره (يوه متر او شل سانتۍ) ده، مګر ځينې دسيمې سپين ږيرې وايي:
زمونږ د پلارونو په کيسه په لمړۍ پوړ کې د اوسېدو خوښې نه، بلکې د مالونو د زېرمو(ګدام) ځای و او دلته به سوداګرو د مالونو د ځای پر ځای کولو له پاره کاراوه.
هر مېلمه کولای شو چې له يوې کوټې نه بلې ته د اوږد دالان (ګالرۍ) نه ګټه پورته کړي، دا کوټې يواځې د لرګيو دروازې لري چې هره دروازه يې دوې پلې او په يوې کينې پلې پورې پوزه (بينيچه) هم لګېدلې ده.
د دروازو سور يا بر يې ۱۰۷ سانتۍ متره (يو سلو اووه سانتي متره) او لوړ والی يې ۱۹۰سانتۍ متره (يوه سلو او نوي سانتي متره) د چوکاټونو سره دي، هر پله يا ترازه يې ۵۰ سانتي متره (پنځوس سانتۍ متره) سور يابر لرې چې پنوالی (ضخامت) يې ۵ سانتۍ متره (پنځه سانتي متره) دی.
دهرې پلې (پانې، ترازې) چوکاټ سور(ضخامت) ۷ سانتۍ متره (اووه سانتۍ متره) او د تختو سور يې ۳ سانتۍ متره (دري سانتۍ مترو) پورې ده او هره پله دوې ولاړې، څلور لماست (افقي) چوکاټونه او دري تختې لري.
دا دروازې په سر يا پورتنۍ برخې کې يوه زنځير او په لوي چوکاټ کې د اوسپنې کونډه لري چې وروسته له کلکولو نه کولای شو په کې کلف (قفل) واچوو او د باندې لاړ شو .
دروازې ټولې دلرګيوجوړې شوې او نقشونه لري، همدا رنګه په دروازو کې شيشه (بنيښه) نه لېدل کېږي، دروازې دالان خوا ته کړکۍ نه لري مګر په ځينو دروازو سرونو کې کوشنۍ کړکۍ لېدل کېږي چې دا کړکۍ په اوسني وخت کې کښلی (بندي، نصب) شوې دي.
دا دروازې ډېرې ډبلې نه دي مګر د دروازو چوکاټونه ۱۰ سانتۍ متره (لس سانتي متره) او ځينې يې تر لسو هم ډبلې دي چې د دواړو خواوو نه د ولاړو(عمودي) ګردو(دستکو) لرګيو سره کلک شوي دي .
مګر دروازو پاسينۍ برخه يې د دروازې پاسيني لرګيو (سرتاکونو، سرطاقونو) سره کلکې شوې او د ننه خوا نه هم کونډه او زنځير لري.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د لمړي پوړ د لیندیو(کمانونو) اړخ او دالان انځور (۵)

د لمړي پوړ د لیندیو (کمانونو) اړخ انځور (۶)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ